**مطبوعاتي اعلاميه**

## اې په تونس کې زمونږ خلکو!
## [اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُم]

**ژباړه:** *«د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست، چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند بښونکی دي»* [انفال: ۲۴]

په دغو ورځو کې د انقلاب لسمه کلیزه نمانځل کېږي، چې په تونس کې پیل شو او د استعماري پانګوالۍ له لوري د وضع شوي واقعیت د بنسټیز بدلون هیله یې درلوده. په هر صورت، واقعیت نه دی بدل شوی او د ځینو څېرو په ورکېدلو او د هغو څېرو په راوتلو سربېره چې په جرم او بدبختۍ کې ډېر نه دي ښکېل، نظام نه دی راپرځول شوی!

استعمار ګر، چې د بورغیبا او بن علی له لارې یې د پردې تر شا پټ کار کاوه، اوس هم دغه هېواد کنټرولوي او ان د پلان جوړونې، قانون جوړونې او په پلي کېدو کې یې خپل کنټرول ډېر کړی دی. دا هغه څوک دي چې مسایل او لومړیتوبونه ټاکي او هغه لارې ټاکي چې چارواکي یې باید وڅاري، دا هغه څوک دي چې د خپلو سفارتونو له لارې د لوړو دولتي کادرونو روزنه پر غاړه لري، چې نه یوازې صدر اعظم، بلکې د دفاع، کورنیو چارو او عدلیې... وزارتونه یې تر مستقیم نظارت لاندې دي.

**اې په تونس کې زمونږ خلکو:**

زمونږ انګېزه یوه ده؛ دا د اسلام انګېزه او تطبیق دی، لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی مونږ ته امر کړی، خو کفري استعمار له هغه وخت راهیسې چې د خلافت دولت یې راوپرځاوه، چې مونږ یې سره متحد کړي وو، غواړي مونږ کمزوري او د دولت ـ ملت په نوم مو ټوټې ټوټې کړي. بیا د واکمنانو په توګه خپل اجنټان هلته وګماري، څو د اسلامي دولت د بیا راګرځېدلو مخنیوی وکړي او خپل ناوړه پلان تعقیب کړي. لاندې خورا مهمو ټکو ته اشاره شوې ده:

**۱ـ ډموکراسۍ ته وده ورکول او د اسلام لېرې کول:** کله چې په تونس کې زمونږ انقلاب پیل شو، د اجنټانو مرکزونه او د دوی واکمني ولړزول شوه، نو هغوی په قصدي توګه د اسلام د لېرې کولو لپاره ډموکراسۍ ته وده

ورکړه او خپل اجنټان يې مديريت او د حکومتولۍ مقامونو ته ورسول. په داسې حال کې چې د ملي روغې جوړې په چوکاټ کې د ځينو پخوانيو اجنټانو د بېرته راستنېدلو په لټه کې هم وو.

**۲ـ د مسايلو وېشل:** استعمارګرو زموږ مسايل ووېشل او د پرمختګ، بېوزلۍ، لوږې، کار او د معاشونو د ډېروالي موضوګانې يې رامنځ ته کړې. څنګه چې موږ وږی ملت يو او د داسې چا لپاره انتظار کاوو چې موږ ته خواړه چمتو کړي! زموږ د غلا شوې شتمنۍ په اړه، دا يو ځانګړی امتياز دی چې د غربي شرکتونو له لوري د غدارانو او دلالانو په مرسته تر لاسه شوي دي.

**۳ـ د ستونزو رامنځ ته کول او بيا پر موږ د دوی د حل لارو راتپل:** استعمارګر د هغو ستونزو حل لارې رامنځ ته کوي، چې همدوی يې لامل دي. يو سيکولر اساسي قانون او له عدالت پرته قانون يې نافذ کړ ی، چې ټول د هغوی د ګټو په چوپړ کې دي. د دغو حل لارو په پلي کېدو سره يې شتمنۍ تر لاسه کړې او د خپلو شرکتونو له لارې يې لوټل پيل کړي. همدارنګه له هغوی څخه يوه اندازه مالي مرسته بېرته راګرځوي او د ويجاړوونکو غصب پورونو په بڼه يې ورکوي، چې په دې توګه لوټل او غلا کول ډېر شوي دي؛ نو ځکه په ميليونونو کارګران به پر ډېر کار بوخت وي.

**۴ـ د لاريون کوونکو ناسمې غوښتنې او ستړيا:** لاريون کوونکو خلکو ته هغه غوښتنې بيان کړې چې له وړاندې پېژندل شوې وې. پرمختګ او ګمارنه، د توکو پېرودلو وده، د څښاک پاکې اوبه او زيربنا چې په ورځنيو لاريونونو کې له کومې پايلې پرته پای ته ورسېدې. تر ټولو مشهوره بڼه يې دا ده چې دغه لاريونونه يووالی نه رامنځته کوي، بلکې موږ بېلوي، چټکې غوښتنې وړاندې کوي او تر ټولو خطرناک دا چې دا لاريونونه د ستونزو واقعيت خلکو ته نه بيانوي او له نښو يې ځان لير کوي. همدارنګه دوی خپله انرژي بې ځايه لګوي او د رژيم پر فساد سترګې پټوي.

**۵ـ ملي پخلاينه:** د خطرناکې پروژې د تېرېدلو لپاره لاريون کوونکي ناهيلۍ ته مجبوري، چې د ملي پخلاينې پروژه ده. دا پروژه يوازې د اوسني فاسد رژيم ثبات دی او د انقلاب دوسيه د پخلاينې په اعلان سره د تل لپاره بندوي.

له خطرناکو پايلو څخه به يې يوه د هغه چا ښنل وي چې په ارزانه، ناکامه معامله کې يې فساد کړی و. که تاسو له دې څخه خوښ ياست، نو دوی به تاسو وغورځوي، څو د مجرمينو په اړه غلي پاتې شئ، چې د ښکېلاک غلامان دي. نه يوازې له جزا څخه به بچ شي، بلکې تاسو به دوی د سياسي او اقتصادي صحنو د مشرانو په توګه يو ځل

بیا په صحنه کې وګورئ، چې له دوی څخه به یوازې بن علي غیر حاضر وي. تاسو به هغه څوک یاست چې دوی د انقلاب په نوم بېرته راولئ!

**اې په تونس کې زموږ خلکو!**

نن اساسي مسله د ښکېلاک او کفارو شتون دی، چې ملک کنټرولوي او د سیکولر سیاسي کړی له لوري اداره کېږي چې یوازې د محکوم کېدو او د هېواد په پلورلو کې ښه دي. همدارنګه بله مسله حاکم نظام دی چې یوازې اسلام دی او تاسو به پرته له اسلام څخه بېرته عزت تر لاسه نه کړئ، ستاسو رب به له اسلام پرته راضي نه شي او تاسو به پرته له اسلام څخه د اخرت په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفاعت وړ ونه ګرځئ.

لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی دی:

۱ـ د الله سبحانه و تعالی په لاره کې د ریښتیني مشرتابه تر امر لاندې د هڅو یو ځای کول، د الله سبحانه و تعالی قانون ته غاړه ایښودل، د دښمن پېژندل او د هغوی له انګېزو خبرېدل.

۲ـ د هغه دښمن له منځه وړل چې موږ یې په رنځ اخته کړي یو او زموږ په برخلیک کې د هغوی مداخله پای ته رسول.

۳ـ د نبوت پر منهج د راشده خلافت دولت رامنځ ته کول.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ]**

**ژباړه:** *«اې ایمان راوړونکو! د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند ښښونکې دي. وپوهېږئ چې الله سبحانه و تعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی او هماغه لوري ته به تاسې ورغونډ کړی شئ.»* [انفال: ۲۴]

**د حزب التحریرـ ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادی الاول ۱

۲۰۲۰م کال، د ډسمبر ۱٦مه

د صدور گڼه: ۱۴۴۲/۲۲